# مورنۍ ژبه

لیاقت سیماب

مشهوره خبره ده چې ډېرې ژبې زده کول عقلمندي ده او خپله ژبه هېرول کم عقل توب دے. خپله ژبه د مور ژبې ته وائي. او د مور ژبه پوهان او ماهران وائي چې انسان د مور په خېټه کښې زده کول شروع کوي او بیا چې څنګه څنګه ماشوم لوئېږي نو ورسره ورسره ژبه هم لوئېږي. او دغسې چې کله ماشوم د دوه درې کالو عمر ته اورسي نو ژبه وئيل هم شروع کړي ولې په ژبه پوهېدل دۀ د مور په خېټه کښې هغه وخت شروع کړي وي کله چې دۀ ساه اخستې وي. او هم دغه ژبې ته مورنۍ ژبه (Mother Tongue) وئيلے شي دې ته ړومبۍ ژبه (First language) هم وئيلے کېږي.

د مورنۍ ژبې سره د انسان يو جذباتي تړون وي او دا ځکه چې دا د انسان د مور ژبه وي. يعنې څومره تړون چې د يو انسان د خپلې مور سره وي هم دومره ئې د مورنۍ ژبې سره وي. دغه وجه ده چې د يونان د خلقو دا پخه عقيده ده چې د هر انسان درې ميندې وي. يوه هغه چې دے ئې زېږولے وي. دويمه وطن يا خاوره او دريمه مور د دۀ ژبه وي.

د مورنۍ ژبې د اهميت اساس که يو طرف ته انساني جذبات يا د وينې تړون دے نو بل اړخ ته دا د يو قوم يا ملت د ترقۍ او پرمختګ هم بنياد دے. که مونږ د دنيا په قومونو او ملکونو نظر واچوو نو مونږ ته به دا حقيقت لکه د نمر اوښکاري چې دنيا کښې هغه قومونو ترقي کړې ده د چا ژبې يعنې د چا مورنۍ ژبې چې ترقي کړې ده. د دې ملکونو غټې مثالونه زمونږ مخکښې د برطانيې،فرانس،جرمني،چين،اټلي،يونان،ناروے، روس او جاپان په شکل کښې پراته دي.

کومو قومونو چې خپلې ژبې شاته کړې دي او د نورو ژبو په امسا ئې تګ شروع کړے دے نو دې سره هغه رفتار نۀ کېږي کوم چې د تندې ترقۍ دپاره ضروري دے. د پردۍ ژبو په امسا قدمونه اخستل د شل او ګوډ انسان کار دے او په معاشرتي توګه شل هغه کس دے د چا چې ذهن شل وي او شل ذهن د غلام او محکوم انسان وي. په دنيا کښې چې کوم قومونه غلامان دي نو اول استعماري قوتونو د هغوي نه خپله ژبه تروړلې وي. او د چا نه چې خپله ژبه اوتروړلے شي نو داسې شوه لکه چې د دۀ نه څوک خپله مور اوتروړي او څوک چې د خپلې مور د غېږ نه محرومه شي نو بيا تاسو د داسې ماشوم مستقبل ته وګورئ چې کله هم روښانه نۀ وي. د داسې ماشوم پالنه او روزنه په پردۍ غېږه کښې وشي او د بل په غېږ کښې چې د چا روزنه او پالنه وشي د هغه کله هم خپلې مور سره هغه مينه نۀ وي. هغه جذباتي تړون ئې ورسره

نۀ وي کوم تړون چې د مور غېږه بچي ته ورکوي. او دغسې د دغه بچي د خپلې خاورې سره مينه او تړون هم وشلېږي. په نتيجه کښې د دغه انسان ذهن شل او بې حِسه شي. او شل او بې حِسه ذهن چې څوک په کومه لاره روانوي. دے په هغه لاره ځي او دغه د غلام او محکوم جوړېدو دپاره اسانه لاره ده.

د دې حقيقت احساس ژوندي او ازادو قومونو سره هر وخت موجود وي. که چرې په عارضي توګه يو قوم د بل جارح او زورګير قوم په جال کښې اونښلي نو دے صرف د پښو لاسو نه نښتے وي. د دۀ ذهن ازاد وي او چې ذهن ازاد وي نو دے ځان د جال نه ازادولو کښې زيات مشکل نۀ محسوسوي.

د دې حقيقت غټ مثال دويم نړي وال جنګ کښې د جاپان شکست دے. کله چې جاپان د امريکې په مشرۍ کښې د اتحادي فوځونو نه ماتې اوخوړه نو د جاپان بادشاه د عالمي استعمار نه صرف يوه غوښتنه اوکړه او هغه دا چې جنګ ګټونکي دې د دوي ژبې ته څه نۀ وائي. نور چې جنګ ګټونکي جاپان سره څه هم کوي نو کوي دې. د جاپان د بادشاه دغه غوښتنه او خواست د دۀ د عقل انتها وه. هغه ته دا معلومه وه که هر څومره جاپان غلام شو خو که د دۀ ژبه ازاده وي نو د دۀ ذهن به ازاد وي. په دۀ به د علم دروازې بندې نۀ وي ځکه چې علم حاصلول صرف په خپله ژبه کښې اسان وي. د دې نتيجه ټولې نړۍ اوکتله چې جاپاني قوم د جاپانۍ ژبې په اساس او لاره خپل بائيللے حيثيت يو ځل بيا اوګټلو او نن جاپان د دنيا د ترقي کړي ملتونو او ملکونو په قطار کښې داسې ولاړ دے چې د لرې نه ځلېږي. دا د جاپان د خلقو د مورنۍ ژبې برکت دے. ترقي هغه قومونه کولے شي د کومو قومونو خپله مورنۍ ژبه چې د هغوي ملي،دفتري او تعليمي ژبه وي.

دا اُصول د پښتنو د مادي او روحاني ترقۍ دپاره هم لاره هموارولے شي. خو اول به مونږ دا حقيقت منو چې خپلې ژبې ته سپک کتل داسې دي لکه چې څوک خپلې مور او خپلې خاورې ته سپک ګوري. او بله دا چې د پردو ژبو نه استفاده کول دپاره به د تعصب او نفرت نه ځان لرې ساتل وي. که چرې د بلې ژبې يو لفظ مونږ ته پښتو کښې شاملولو سره فائده مند ثابتېږي نو بايد چې مونږه دغه لفظ خپل لفظ اوګڼو. بله دا چې پښتو به هله ترقي کولے شي چې مونږه د نورو ژبو کتابونه او علمي مقالې د ترجمې په لاره پښتو ته راواړوو. ځکه چې د ترقۍ دپاره علم ضروري دے او علم د دنيا د ترقۍ کړي قومونو په ژبو کښې موجود دے.

دلته بايد دا حقيقت هم اومنلے شي چې پښتو بې شکه چې د پښتنو د زياتو خلقو مورنۍ ژبه ده ولې دا زمونږ ملي ژبه هم ده. د پښتنو د مختلفو سيمو لهجې او الفاظ د پښتو د ګلدستې رنګا رنګ ګلونه دي. په دې د پښتو ژبه ښائسته او وړمه ايزه ده. د مختلفو علاقو الفاظ زمونږ د ژبې قيمتي پنګه ده. د دې پنګې نه استفاده کولو سره به پښتو ژبه د ترقۍ په زغل کښې نوره تيزه او تنده شي. راځئ چې د قوم او ملت د مضبوطولو دپاره مونږ خپله ژبه مضبوطه،ښتۀ منه او د علم په کالو ښائسته کړو. دغه بۀ زمونږ پښتو او زمونږ غيرت وي.